پوهندوی آصف بهاند
۲۰۱۶/۰۱/۳۱

# لنډۍ د شخص مال، که د خلکو مال؟

## ۴

## لنډۍ او د لنډیو د ثبتولو ستونزه

### نولسمه برخه

ما د لنډیو د منابعو د معرفي کولو او د لنډیو د ثبتولو د ستونزو په برخه کې ګڼ شمیر مقالې لیکلې او خپرې کړې دي. د دې مقالو په شپاړسمه ، ولسمه او اتلسمه برخه کې مې د «لنډۍ د خلکو مال، که د شخص مال؟» تر سر لیک لاندې په دریو برخو کې د لنډیو د ثبت په برخه کې د ښاغلي جهاني پرنظریاتو باندې بحث کړی دی او د ده د نظریاتو په هغو برخو باندې تم شوی یم چې زما له نظره د تامل وړ وو. ده هم زما د هغو خبرو په ځواب کې چې ما د ده نظریاتو ته تردید ښودلی و، د ځواب په ډول بله مقاله ولیکله چې په افغان جرمن کې د جنورۍ په دیرشمه نیټه او په تاند کې د جنورۍ په یو دیرشمه نیټه خپره شوه.
د دې بحث په پیل کې زه د ځیرنې د ښونځي د یو شاګرد په صفت، دومره وایم چې هره څیړنیزه لیکنه او د هغه له پاره استدلال باید مستند وي، مآخذ، ریفرنس او لینک ولري. د جهاني صاحب په اته مخیزه لیکنه کې نقل قولونه شته، خو هیڅ ډول پته یې ښودل شوې نه ده، چې زه یې په دلیل باندې پوه نه شوم.
ښاغلی جهاني د خپلې لیکنې په پیل کې وايي:
«ما کال یو نیم مخکې د پښتو نظم ځینې توکې او اړخونه تر عنوان لاندې یو مضمون لیکلی وو.»
که له یونیم کال مخکې زماني قید نه د ده هدف دا وي چې ما ولې هغه وخت څه پرې څه و نه لیکل، دلیل یې د جهاني صاحب په اداري او سیاسي ژوند کې ځینې ملحوظات وو چې د هغو پر بنا په هغه وخت کې یې لیکل ما اړین و نه ګڼل.
ښاغلی جهاني په لاندې مواردو کې زما پر نیوکو قناعت نه لري او پر خپلو پخوانیو دلایلو باندې یې نور هم ټینګار کړی دی:
ـ د ښځینه لنډیو د سلنې ډیر والی یا لږ والی،
ـ د لنډیو د لرغونوالي مساله،
ـ لنډۍ د شخص مال، که د خلکو مال؟
ښاغلی جهاني د ښځینه لنډیو په باب په خپل لومړني بحث کې داسې نظر وړاندې کړی و، دا چې ډیری څیړونکي په دې عقیده دي چې د لنډیو ډیره سلنه د ښځو تخلیق دی، دی یې نه مني او د استدلال له پاره یې ویلي وو:
«... دغه راز دا خبره زما په عقیده د تاءمل وړ ده چې وایی اکثریت لنډۍ د پښتنو ښځو ویلې او جوړې کړې دي. زه فکر کوم چې د پښتنو مخ پوتو، له معاشرې څخه لیرې ساتلیو سویو او بیسوادو ښځو، په دې ښایست، د نظمونو د لیکلو توان نه درلود. دا لنډۍ، زیاتره، پخپله نارینه وو لیکلې او ویلې او ښځو ته یې منسوبې کړې دي.»
ما په خپله لیکنه کې خپل دلایل وړاندې کړې وو، خو ښاغلي جهاني زما دلایل ضعیف او نه قانع کوونکي ګڼلي او بیا هم پرخپلو خبرو په ټینګار سره لیکي:


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په خیر و لولـئ

« ... لومړی خو ما، خدای مه کړه، د پښتنو ښځو او پېغلو له استعداد او پوهې څخه هیڅ وخت انکار نه دی کړی. دغه ګړی، په افغانستان کې دننه او له افغانستان څخه دباندې، داسې ځوانې نجونې او مېرمنې لرو چې نه یوازې په شعر او نثر کې له نارینه وو سره سیالې کولای سې بلکه د ډېرو نارینه لیکوالانو، شاعرانو او څېړونکو زور نه په رسېږي. خو زما خبره د نن څخه سل دوه سوه یا درې څلور سوه کاله مخکې زمانې ته متوجه ده. هغه زمان چې ښځو سواد نه درلود او په قفسونو کې ساتل کېدلې. نه یوازې یې سواد نه درلود بلکه د ټولنې ظالمانه حاکمو قوانینو د یوه پردې زلمي سره د مینې د ښکاره کولو په بدل کې د هغوی سرونه غوڅول. لیرې به نه ځو، د یویشتمې پېړی په شرایطو کې چې د لویو او پرمخ تللیو ښارونو په منځ کې ځوانې نجلۍ ته د خپلې خوښې د زلمي د انتخابولو حق نه ورکول کېږي او حتی له کوره ایستل کېږي او یا له زلمي سره یو ځای وژل کېږي، نو سل کاله مخکې تصور کول خو بیا ډېر ګران کار نه دی.»
زما دلایل زما په درې ګونو مقالو کې شته چې پاس یې ما پټې وښوولې او د بیا تکرار اړتیا یې نه وینم. زه فکر کوم چې که زه له دې نه زیات دلایل هم راوړم، دی نه قانع کېږي، پر خپل نظر ټینګ ولاړ دی او وایي: « د ټولنې ظالمانه حاکمو قوانینو د یوه پردې زلمي سره د مینې د څرګندولو په بدل کې د هغوی سرونه غوڅول. »
په بله برخه کې بیا وایي چې :«... دغه ګړی، په افغانستان کې دننه او له افغانستان څخه دباندې، داسې ځوانې نجونې او مېرمنې لرو چې نه یوازې په شعر او نثر کې له نارینه وو سره سیالې کولای سې بلکه د ډېرو نارینه لیکوالانو، شاعرانو او څېړونکو زور نه په رسېږي. »
ښاغلی جهاني!
د پخوانیو زمانو په باب زما او ستا خبرې پر حدثیاتو ولاړې دي، اوس یې په رڼو سترګو وینو چې نه یوازې سر، بلکې پزه، شونډې او غوږونه یې هم پرې کېږي، سنګسار خو لا نارینه خپل شرعي او قانوني حق ګڼي او په رڼا ورځ د ارګ په څو سوه متری کې اور ور اچول کېږي، نو څنګه بیا هم ستا د وینا په استناد له دومره وهلو ټکولو او تهدید سره سره دا دی داسې څه تخلقوي چې له نارینه وو سره سیالي کوي او لا ور نه مخکې هم دي.
د ښاغلي جهاني په خبرو کې ښکاره تناقض لیدل کېږي. دی وایي چې څلور سوه کاله پخوا که کومې مېرمنې د مینې اظهار کړی وای، سر ور نه غوڅېده، ځکه په هغه وخت کې هغوی داسې لنډۍ نه دي ویلې او دا ټولې د نارینه وو تخلیق دی. نو اوس څنګه چې پزه، غوږونه، شونډې او لا سوځول هم ورسره دي او تاسو خپله وایئ چې له نارینه وو نه مخکې هم دي، پخوا زمانو کې یې د سر د غوڅولو له ډاره څه نه شوای تخلیقولی او اوس له هغه نه د زیاتو تهدیدونو په دایره کې بیا څنګه له نارینه نه هم مخکې شوي؟
ښاغلی جهاني لازم شواهد غواړي، زه پوه نه شوم چې لازم شواهد دی څه شي ته وایي؟ زه د بل چا شواهدو ته اړتیا نه لرم او په یوازې ډول د خپل نظر په څرګندلو سره وایم چې زه د ښاغلي جهاني دا نظر چې ده ویلي دی چې لنډۍ د ښځو تلخیق نه، بلکې د نارینوو تخلیق دی، نه منم.
بله خبره دا ده چې ما د لنډۍ په باب د دغو مشهورو څېړونکو چې د لنډۍ په باب یې څېړنې کړې او مقالې او آثار یې خپاره شوي دي، د استناد په ډول راوړي دي او دی وایي چې دا کافي نه دي. زه فکر کوم چې که زه د ده د قناعت له پاره هر څومرېښه دلایل پیدا کړم او په مخ کې یې ور ته کېږدم، دی به قانع نه شي او بیا به هم پر خپلې دې خبرې ټینګار کوي چې نه دېره سلنه لنډۍ د ښځو تخلیق نه، بلکې دا لنډۍ نارینه وو جوړې کړې او د ښځو له آدرسه یې جوړې کړې دي. زه په دې پوه نه شوم چې هغه نارینه چې له هر اړخه له ځان نه ښځه جوړوي، له روانې پلوه له ځان نه ښځه جوړوي او ځان د یوې ښځې په رواني چاپېریال کې دروي او د هغې له خولې او ذهن نه لنډۍ را باسي، دې کار ته څه اړتیا لري؟
د خپلو نوو خبرو په یوه برخه کې ښاغلی جهاني وایي چې « ... په ثبت سویو لنډیو کې( که چیرې ښځو ته منسوبې سوې لنډۍ ریشتیا هم د ښځو وبولو) اوس هم د نارینه وو ونډه زیاته ده. »
دا خبره د فولکلور او لنډیو په بداینه کې څه رول لوبوي چې موږ په لنډیو کې د نارینه او یا ښځینه تله درنه او یا سپکه ثابته کړو، خبره د نارینه او یا ښځینه لنډیو د سلنې په کم والي یا زیاتوالي کې نه ده، بلکې زما سوا ل په تیرو مقالو کې دا و چې تاسو د ښځو له لنډیو انکار کړی او هغه مو ټولې د نارینه وو د فکر او مغز محصول ګڼلې دي.
تاسو په هغې برخې داسې ویلي و:
« دغه راز دا خبره زما په عقیده د تاءمل وړ ده چې وایی اکثریت لنډۍ د پښتنو ښځو ویلې او جوړې کړې دي.»
زه یې بیا هم تکراروم چې دا د ښځو په حق کې جفا ده چې د هغوی له استعداد څخه انکار وشي او پر تخلیق باندې یې سترګې پټې شي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالې د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

بله د بحث وړ موضوع د لنډیو په لرغونتوب کې ده چې ښاغلي جهاني د استاد رفیع ، استاد غضنفر، استاد شپون او کاروان صاحب پر دې نظریاتو شک ښوولی دی چې لنډۍ دې ډیر لرغونوالی ولري او لیکلي یې دي چې: « ښاغلي بهاند په دې برخه کې هم یوازې د ځو تنو پوهانو او شاعرانو په ویناوو او لیکنو استناد کړی دی، چې زما په نظر یوازې د نظریاتو راوړل او په هغوی استناد کول د یوې عقیدې د ردولو او خپلې عقیدې د ثابتولو لپاره کافي نه دي.» زه فکر کوم چې زه که هر څومره دلایل او د هر چا استدلال په دې برخه کې راوړم د ده قناعت نه حاصلیږي، که تاسو داسې لنډۍ او اسناد غواړئ چې په څلور زره کاله مخکې زماني باندې دلالت وکړي، دا یو څه ګران کار دی. بله خبره دا ده چې د ډیرو علمي مسایلو په برخه کې هم په نړیواله کچه ځینې مسایل په ابتدایي بڼه پر حدثیاتو بنا وي، چې یوه یې هم ښایي د لنډیو همدا لرغونوالی وي.

د لنډیو د لرغونوالي او نه لرغونوالي د استدلال په برخه کې ښاغلی جهاني د خالو د لښکرو او ګومل کیسه را اخیستې ده او د بل چا په آدرس خبرې کوي. د جهاني صاحب په لومړنۍ لیکنه او اوسنۍ لیکنه کې اصلي مخاطب بل څوک دی چې دی یې برالا نوم نه اخلي. زما هیله دا ده چې که جهاني صاحب د خالو او ګومل د لنډۍ د راوړنکي او یا هم په نورو برخو کې د خپل اصلي مخاطب په نوم او آدرس لیکل وکړي، ښه به وي، نه سر در ګومه او بې پتې.

جهاني صاحب د خپلې تازه مقالې په یوه برخه کې لیکلي چې:« ... موږ باید د خپلو ځوانو ځېرونکو او زده کونکو ماغزه په دغه راز بېځایه لیکنو مغشوش نه کړو.»

زه څه د پاسه پنځه دیرش کاله کیږي چې قلم چلوم، ما هیڅ کله د چا یا کوم ځوان، یا کوم زده کوونکي ماغزه په خپلو لیکلو نه دي مغشوش کړي، د ښاغلي جهاني له نظره د چا لیکنې بې ځایه او مغشوشونکي دي، لطفاً د ې د هغه نوم او پته ولیکي او د هغه په آدرس دې لیکل وکړي.

بله مسأله دا ده چې زموږ د وطن اوسني حالات دا نه ایجابوي چې موږ دې اوس د نورو ډیرو ستونزو د حل لارې لټول پریږدو او د لنډیو د لرغونوالي او یا نه لرغونوالي کیسه را پیل کړو. دا به منو چې لنډۍ یا ډیر پخوانی ژانر دی او یا هم نوی ژانر، دا زموږ په مخ کې د پرتو ستونزو په حل کې څه رول لوبولای شي چې موږ د لنډیو پر لرغونوالي او نه لرغونوالي باندې مقابله وکړو؟

د بحث بله موضوع چې زه یې د بحث اصلي برخه ګڼم، لنډۍ د شخص په ملکیت کې د راوستلو موضوع ده. ښاغلي جهاني په تیره مقاله کې هم تینګار کړی و چې لنډۍ هر څوک کولا شي په خپل نامه ثبت کړي:

«... پخوا چې لنډۍ لیکلې سوې نه وې خو چا لیکلای نه سوای؛ اوس چې یې لیکلای سي پریږدی چې په خپلونومونو یې ثبت کړي... »

او په اوسني بحث کې یې لا تینګار ور باندې کړی دی چې لنډۍ د هر چا په نامه ثبتیدلای شي او حتی خلک کولای شي د خپلو لنډیو دیوانونه هم چاپ او خپاره کړي:

« ځوانان باید کوښښ وکړي چې خپلې لنډۍ په خپلو خاصو ټولګو کې په خپلو نومونو چاپ کړي او د راټولو سویو یا را ټولو کړو لنډیو په کتابونو کې یې وانه چوي. په دې توګه به هم د هر شاعر خپل خپل شعري استعداد څرګند وي، هم به پخي او بېخونده لنډۍ سره بېلې سوې وي او هم به مو د لنډیو امانت، چې له بده مرغه تر اوسه نه دی خوندي سوی، ساتلی وي...»

په هر صورت جهاني صاحب له تیرې مقالې نه لا اوس پرخپلو ټولو هغو نظریاتو ټینګار کوي چې ما ور باندې بحث کړی و. دی د هر بحث په برخه کې وایي چې د آصف بهاند دا دلایل کافي نه دي. د ښاغلي جهاني نظریات زما له پاره د یوه شخص د نظریاتو په توګه د قدر وړ دی او زه یې در ناوی کوم، خو ورسره دا خپل حق ګڼم چې د لنډیو د تاریخ، جولي، منځپانګي او د ثبتولو د ستونزو په باب خپل نظر څرګند او دفاع ور نه وکړم.

د نولسمي برخي پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په خیر و لولئ